مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۳/۳۰

# هیچا ته،

# هرچا ته!

له هر مراده نامرادو خلکو
د وچ غیرت غره کې آبادو خلکو

په افیون مستو، په منتر لیونو
لونو، بچو ته مو جلادو خلکو

شعور، ویښتیا، عقل په کانو ولئ
په مقدس جهل معتادو خلکو

زنځیر مو ذهن کې زندان مو زړه کې
په دروغجن ظاهر آزادو خلکو

دونیا مو یو بل ته دوزخ جوړه کړه
د ورک جنت په وعدو ښادو خلکو

بنیادپرستو ته پرتو په سجدو
د خدای د لاري بې بنیادو خلکو

اسلام جدا، اسلام آباد جدا دی
یه په پردي جهاد بربادو خلکو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ